مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

یوسف هېوادوست ۲۰۲۱/۱۲/۰۶

# ښوونځی

مري یوه انګلیسي نجلۍ وه خو په روم کې یې ژوند کاوه .هغه شپږ کلنه وه.تېر کال مور یې ورته وویل : « مري ، ته اوس نو شپږکلنه یې او دا یې وخت دی چې ښوونځي ته لاړه شي . خامخا دې هغه ښوونځی خوښیږي ځکه یو ښایسته ښوونځی دی. »



مري پوښتنه وکړه : «دا یو انګلیسي ښوونځی دی ؟ »
مور یې ځواب ورکړ : « هو ، همداسې ده. »
مري ښوونځي ته لاړه او درسونه یې ډېر خوښ شول .مور به یې تل هر سهار تر ښوونځي رسوله او له غرمې وروسته به یې کور ته راوستله .تېره دوشنبه کله چې مور یې پر ۴ بجو ښوونځي ته ورغله ،مري له خپل ټولګي د باندې ورمنده کړه.
مري وویل : «مورې ! مور نن یو نوی زده کوونکی لرو .هغه هم شپږ کلن دی .او ډېر ښکلی دی خو انګلیس ندی.هغه آلماني دی. »
مور پوښتنه وکړه : « انګلیسي خبرې کوي ؟ »
مري په خوشالۍ سره ځواب ورکړ «نه ، خو په انګلیسي خاندي .»

یوه انګلیسي کیسه
پښتو کوونکی: یوسف هېوادوست



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ